# لیک لړ


| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ټولنیز ژوند | ۱ |
| ۲ | کورنۍ | ۳ |
| ۳ | د کورنۍ ارزښت | ۵ |
| ۴ | د کورنۍ د غړو دندې | ۷ |
| ۵ | په کورنۍ کې نظم | ۹ |
| ۶ | جومات | ۱۱ |
| ۷ | ښوونځی | ۱۳ |
| ۸ | په ښوونځي کې دندې | ۱۵ |
| ۹ | په افغانستان کې د پوهنې تاریخچه | ۱۷ |
| ۱۰ | په کلي کې استوګنه | ۱۹ |
| ۱۱ | د کلي د خلکو کسبونه او لاسي صنعتونه | ۲۱ |
| ۱۲ | په کلي کې کرنه | ۲۳ |
| ۱۳ | په کلي کې مالداري | ۲۵ |
| ۱۴ | په کلي کې د مالدارۍ ګټې | ۲۷ |
| ۱۵ | ښاري ژوند | ۲۹ |

| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱۶ | د ښاري خلکو کسبونه | ۳۱ |
| ۱۷ | د ښارونو ډولونه | ۳۳ |
| ۱۸ | د افغانستان مهم او تاریخي ښارونه | ۳۵ |
| ۱۹ | د نړۍ لوی ښارونه | ۳۷ |
| ۲۰ | زموږ هېواد افغانستان | ۳۹ |
| ۲۱ | ملي بیرغ | ۴۱ |
| ۲۲ | دولتي اداري | ۴۳ |
| ۲۳ | ترافیکي مقررات | ۴۵ |
| ۲۴ | د چاپېریال ساتنه | ۴۷ |
| ۲۵ | ځلور اصلي خواوې | ۴۹ |
| ۲۶ | ځلور فرعي خواوې | ۵۱ |
| ۲۷ | نقشه او د هغې ځلور خواوې | ۵۳ |
| ۲۸ | د افغانستان ځلور خواوې | ۵۵ |
| ۲۹ | زموږ د هېواد اداري وېش | ۵۷ |
| ۳۰ | د افغانستان دین ژبه او نفوس | ۵۹ |

مور، زامن، لمسیان، ترونه او ترینديږ یو ځای ژوند کوي، چې دا ټول د کورنۍ غړي ګڼل کېږي. پر موږ لازمه ده چې د خپل مور، پلار او مشرانو درناوی وکړو. له ښو وګړو څخه ښه کورنۍ او له ښو کورنیو ښه ټولنه منځ ته راځي. د کورنۍ ځواکمنتیا د ټولنې د پیاوړتیوب لامل ګرځي.

## فعالیت

په ډلو کې د کورنۍ او د هغو د غړو په اړه بحث وکړئ.

## ځواب ورکړئ

۱- د ماشومانو د ښوونې او روزنې لومړنی ځای کوم دی؟
۲- تاسې له خپل مور او پلار سره څرنګه چلند کوئ؟
۳- تاسې له کورنۍ څخه څه زده کوئ؟

## کورنۍ دنده

د خپل کور د غړو دندې په کتابچو کې ولیکئ.

**د څپرکي موخې:**

- د جومات په ښوونیزه او روزنیزه ونډه پوه شي.
- په ښوونځي کې د ښوونې او روزنې په ونډه پوه شي.
- د ښوونځي دندې تشریح کړای شي.
- په جومات او ښوونځي کې له زړه کړې سره مینه پیدا کړي.

لسم لوست

# په کلي کې استوګنه

**پوښتنې**

- **څه فکر کوئ، خلک په کلي کې په کوم ډول ژوند کوي؟**
- **ستاسې په آند، د کلي ژوند د ښاري ژوند په پرتله له يو بل سره څه توپير لري؟**



د کلي انځور


**کلی د ښار په پرتله کوچنی دی او نفوس يې له ښار څخه لږ وي. د کلي خلک په کرنه، مال ساتنه او لاسي کارونو بوخت وي چې همدا کسبونه د کلي د اقتصادي شتمنۍ سرچینه جوړوي. په کلي کې ژوند کول د ښار په پرتله ساده دی، په کلو کې، باغونه او ډول ډول ونې وي. له دې کبله د کلي هوا پاکه او په زړه پورې وي او خلک يې د ښه صحت او روغتيا خاوندان دي.**

# په کلي کې مالداري

## پوښتنې

- څه فکر کوئ، په کلي کې څه ډول کورني څاروي ساتل کېږي؟
- ستاسو په آند، څارویو محصولات څه ګټې لري؟

انسانانو له پخوا زمانو څخه د خپل ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کورني څاروي ساتلي او له هغو څخه يې ګټه اخېستې ده، زموږ په هېواد کې د څارويو د روزنې کسب د کورنيو څارويو له ساتلو لکه: وزو، پسونو، غوايو، اوښانو آسانو، کچرو، خرو او نورو. څخه عبارت دی څرنګه چې په کلو کې د ښارونو په نسبت



عبارت دي. د هېواد د سيندونو له اوبو د کرنې، برښنا، د ژرندو جوړولو، کب نيولو او نورو کې ګټه اخېستل کېږي.

زموږ د هېواد اوبه د دښتو په خړوبولو د برښنا د بندونو په جوړولو، د کبانو د روزنې د پروژو او د ژوند د چاپېريال په سمسورتيا کې ډېرې آسانتياوې رامنځته کوي.

د يادونې وړ دی چې په خوړونو او هغو ځايونو کې چې سيلابونو خطر وي د اوسېدلې ځای غوره نه کړو او د سېلابونو په مهال ځان خوندي سيموته ورسوو.

## فعاليت

په خپلو ډلو کې د هېواد د سيندونو د اهميت او ګټو په اړه خبرې وکړئ.

## ځواب ورکړئ

لاندې جملې پوره کړئ

۱-سيندونه د خلکو د اړتياوو په پوره کولو کې ډېر.................................. لري.

۲-د سيندونو له اوبو څخه سربېره د (..........................................)کې ګټه اخيستل کېږي.

## کورنۍ دنده

د سيندونو د اهميت او ګټو په اړه څو کرښې خپلو کتابچو کې وليکئ.

